# د ناول "عاشو لمر او باران اوري" کيسې د ځينو کردارونو اروايي «نفسياتي» څېړنه

# A study of Novel "Ashu Lmar Ao Baran Auri" in the light of psychoanalysis

عبدالوهاب آزاد*

**Abstract:**

Psychology is the scientific study of the mind and behavior. Psychologists are actively involved in studying and understanding mental processes, brain functions, and behavior.This kind psychology has been discussed in the Raz Muhammad Raz`s Pashto Novel (**ASHU LMAR AO BARAN AURI**). I analyses some characters of this Novel in my Article. Hope my Reader understands the Basic and background of the Novel.

**Keywords:** Novel, Ashu Lmar Ao Baran Auri, Raz Muhammad Raz.

فکري دنيا ورځ په ورځ غوړېږي او د فکر د غوړېدلو دغه چاره د ژوندانه په بېلا بېلو څانګو کې د پوهنې او پوهانو په تړون تر سره کېږي، ځکه پوهان د ټولنيز ژوند د لارو روڼا کولو لپاره بل مشالونه يا څراغونه بلل کېږي.

د ژوندانه د فکري غوړېدا په دې لاره کې ادب پوهان هم پوره برخه لري، چې ادب د انساني ژوند له پيدايښت سره سم وجود موندلی او تر اوسه پورې د ژوند له پرمختګ سره وړه په وړه د پرمختګ پړاوونه وهي او دا هم ثابته ده، چې د پرمختګ دغه لار په بېلا بېلو څانګو کې د څېړنې، سپړنې او کره کتنې په توان روڼا شوې ده، چې په دې لړ کې نوي نوي طريقې او لارې را سربېره شوې دي او په دې نوو را سربېره شوو او څرګندو شوو لارو کې يوه نوې لاره د اروا پوهنيزې څېړنې لار ده. اروا پوهنيزه څېړنه (تحليلِ نفسي) په ادبياتو او په ځانګړې ډول د فکشن يا افسانوي ادب لکه داستان، ناول، لنډه کيسه (افسانه) ډرامه او داسې نورو کې په زړه پورې ثابته شوې ده. څېړونکي باور لري، چې په اروا پوهنيزه څېړنه سره لوستونکي د ليکوال او ادبي ژانرونو تر ژورو پورې رسېدلای شي.

پورتنی سرليک پر اروا پوهنيزه څېړنه يا تحليلِ نفسي اړانه لري، نو په کار ده، چې مخکې د اروا پوهنې په اړه څه معلومات وړاندې کړل شي.

**اروا پوهنه يا نفسيات (روحيات/ علم النفس):**

د اروا پوهنې اصطلاح چې په پخوانيو يا تېرو شوو وختونو کې روحيات او علم النفس هم ورته ويل شوي دي، اوس يې په پښتو ادب کې د اروا پوهنې په نوم پوره او ټولمنلی (د ټولو لپاره د منلو وړ) ځای نيولی دی، د همدې اصطلاح په اړه د پورته وړاندې شوې خبرې د باورې کولو لپاره د نفسياتي اصطلاح دَ ارتقا ء تر سرليک لاندې اردو ليکوال ډاکټر سليم اختر ليکي:

* M.Phil. Scholar, Department of Pashto, University of Balochistan, Quetta

"۱۹۲۷ء سے پہلے نفسیات کی اصطلاح نظر نہیں آتی، بلکہ ۱۹۲۳ء تک مرزا محمد ہادی رسوا ہی کی ترجمہ شدہ ایک کتاب "مبادی علم النفس" کے نام سے بھی ملتی ہے۔ اس لئے قیاس یہی ہے کہ علم النفس کو ناقص سمجھتے ہوئے "نفسیات" کی اصطلاح وضع کی گئی اور مرزا محمد ہادی رسوا کی طبیعت میں اختراع و ایجاد کی جو صلاحیتیں تھیں، ان کی بنا پر یہ قرین قیاس ہے، کہ شاید یہ اصطلاح ان ہی کی وضع کردہ ہو۔" اختر، طبع اول سال ۱۹۸۶ء، صفحہ ۲۶(1)

**ژباړه**: تر ۱۹۲۷ز کال مخکې د نفسیاتو اصطلاح نه تر سترګو کېږي؛ بلکې تر ۱۹۲۳ز کال پورې هم د مرزا محمد هادي رسوا یو ژباړل شوی کتاب د "مبادي علم النفس" په نوم شته، نو کېدای شي، چې وروسته ورته علم النفس کره او پوره نه وي ایسېدلې او پر ځای یې د نفسیات اصطلاح په کار اچولې وي، د نوموړي رسوا په ذهن کې د پنځوني یا ایجاد وَ وړتیا ته په کتلو اټکلاً ویلای شو، چې دا به د همدغه نوموړي ټاکلې او رغولې اصطلاح وي."

خو د اردو ژبې په اړه دغه باوري خبره "چې د نفسیاتو تر اصطلاح مخکې ورته د علم النفس نوم کارول شوی دی" په پښتو کې هم هغه وخت د نفسیات پر ځای د روحیات اصطلاح کارېدله او دلیل یې دا وو، چې له نفسیات څخه مراد روح ده، نو په کار ده، چې روحیات ورته و ویل شي، نوموړی ډاکټر سلیم اختر د ډاکټر محمد اجمل د یوې مرکې په حواله د پښتو او دري یا خصوصاً د افغانستان په اړه داسې لیکي:

"یہ امر خالی از دلچسپی نہ ہوگا کہ افغانستان میں "نفسیات" کے برعکس "روحیات" کی اصطلاح مروج ہے، چنانچہ ڈاکٹر محمد اجمل نے ایک انٹرویو میں یہ انکشاف کیا: سائیکولوجی کو افغانستان میں "روحیات" کہتے ہیں۔ وہ کہتے ہیں کہ سائیکی کا مطلب چونکہ روح ہے، اس لئے سائیکولوجی کا ترجمہ روحیات ہی ہو سکتا ہے۔" ڈاکٹر ، طبع اول سال ۱۹۸۶ء صفحہ ۲۶۔(2)

**ژباړه**: دا خبره د پام وړ ده، چې په افغانستان کې د نفسیات د اصطلاح پر ځای روحیات اصطلاح دود یا مروج ده، ځکه خو ډاکټر محمد اجمل په یوه مرکه کې دا څرګندونه کوي، چې:
په افغانستان کې سایکولوجي ته روحیات وایي او دلیل یې دا دی، چې سایکي و روح ته وایي، ځکه د سایکولوجي ژباړه هم روحیات کېدلای شي."

دا هم داسې برېښي، چې نفسیات اصطلاح د لوېدیځ تر اغېز او اثر لاندې اردو ته راغلې وي او روحیات مذهب ته د نژدېکت له کبله پښتو او فارسي ته لاره کړې وي، ولې چې د روح په حواله په قرآن پاک کې هم یادونه شته، چې:

وَيَسْـــــــــئَلُوْنَكَ عَنِ الرُّوْحِ قُلِ الرُّوْحُ مِنْ اَمْرِ رَبِّيْ وَمَآ اُوْتِيْتُمْ مِّنَ الْعِلْمِ اِلَّا قَلِيْلًا.
قرآن سوره بني اسرائيل پاره ۱۵آيه ۸۵(3)

**ژباړه**: "له تا څخه د روح په اړه پوښتنه کېږي، نو و وایه، چي دا د ستر څښتن امر دی، نه ده ورکول شوې پوهه؛ خو لږ څه"
وروسته د همدغو اصطلاحاتو روحیات او علم النفس ځای په پښتو کي ارواپوهني نیولی دی، د روحیاتو یا اروپوهني د پېژندني په اړه اروابښاد لیکوال محمد نادر ایوبي په روحیات نومي کتاب کي لیکي:

"روحیات د انسان د طبیعت او د هغه د دماغ او روح د کړه وړه د څېړنو و پوهني ته وایي او موضوع یې د انسان د نفس او (روح) پلټنه او نتیجې حاصلول دي او همدا پوښتنه چي احساس، فکر، ذهن، نفس، روح، اندېښنې، خیالونه، ارادې، ادراکات، پوهني او د انسان د روحیاتو په کړیو کي نور هم مثلَه حالات او شیان لکه خوب لیدل، سحر، جادو، طلسم، کوډې، نجوم، پېش بیَني، فال اچول، چشم بندي او مداري ګري څه شي دي."(4)

دا چي انسان پخپل داخل کي له یو شمېر پوښتنو سره مخامخ کېږي، آیا! انسان په دې پوهېږي، چي ولي له داسي کیفیاتو سره مخامخ شي؟ د همدې پوښتنو د ځوابولو لپاره پوهانو د اروا څېړني یا تحلیلِ نفسي لاره غوره کړې ده، چي انسان له همدې لاري ځان پېژندنه تر سره کولای او هم په ځان پوهېدلای شي، داسي هم ویلای شو، چي د اروپوهني هدف او مرام ځان پېژندنه ده، په همدې لړ کي اروابښاد ایوبي یو بل ځای لیکي:

"(من عرف نفسه فقد عرف ربه) یعني څوک چي د خپل نفس په اړه پوهنه حاصله کړي؛ هغه به د خپل رب ج په موردِ کي هم معرفت تر لاسه کړي."

اوس راځو؛ د استاد ناول لیکوال راز محمد راز د ناول "عاشو لمر او باران اوري" ناول کیسې ته، چي د ځینو کرکټرونو اروایي څېړني یا تحلیلِ نفسي یې زموږ د دې لیکني ټاکلی سرلیک یا عنوان دی.
د «عاشو لمر او باران اوري» په لوست او ژورلید سره د ځینو کردارونو یا څېرو د اروایي څېړني په توان د هغوی تر پټو اړخونو... لکه د ښکلا او ښایست خوښونه، د خوشالۍ او غم اغېزې، وسوسې او اندېښنې، ذهني کړکېچونه یا ګډوډۍ، ویده شوي یا خوبولي ارمانونه، پټې وېرې او د اروایي ځورونو د را منځته کېدلو تر لاملونو پوري رسایي کېدلای شي، چي لیکوال یې په کیسه کي په ځایولو سره تر لوستونکو پوري د رسولو هڅه کوي، دا خبره ښاغلی لیکوال استاد اسدالله غضنفر د اروپوهنیزي څېړني په اړه باوري کوي او لیکي:

"ساینس پوه د طبیعت په باره کي او ټولنپوه د ټولني په باب معلومات راکوي، خو شاعر یا کیسه لیکونکی ډېر څه د ځان، د خپل احساس او خپلو تاثراتو په باره کي وایي، که د ګل په باره کي غږېږي، نو په دې څرګندونه کي

د ده احساس او شخصيت شامل دی، څکه خو د ليکوال يا شاعر د آثارو په رڼا کې د هغه د شخصيت په باب ارواپوهنيزه څېړنه کېدونې ده." (6)

په همدې تناظر يا شاليد کې که موږ لږ او ډېر په ژورليد سره ناول کيسه (عاشو لمر او باران اوري) و ګورو، نو پوهېږو، چې ليکوال د خپلې پوهې په توان د خپل زمان او مکان په څارنه ټولنيز ژوند په ښه توګه انځور کړی دی او په ژور لوست يې لوستونکي ته ليکوال، د ليکوال احساسات او تاثرات په ښه توګه ور څرګندېږي، چې ليکوال په څه ډول ټولنه کې ژوند کوي؟ څه ډول احساسات لري؟ څه ډول تاثرات يې دي؟ او څېړنيز لوستونکي د ليکوال زړه غوښتنه او ارمان هم څرک کولای شي، چې ليکوال د خپلې پوهې او دانش په توان د ټولنيز فکر په را ويښولو د پرمختګ لوري ته د ګړنديتوب ذهن او زړه لري.

په "عاشو لمر او باران اوري" ناول کيسه کې د يوې داسې ټولنې ژوند انځور شوی دی، چې په شاته پاته ټولنو کې شمېرل کېږي او له بېلا بېلو قبيلو څخه يې د وتلو په نيت د قوميت لوري ته د ور ننوتلو لومړي مراحل يا پړاوونه دي. هغه د لوی او فلسفي تاريخ ليکوال خبره ده، چې:

"د ټولنو د تشخص ساتنې لپاره عصبيت ضرور دی او جغرافيه پر ټولنيز کړه وړه/ ذهن او زړه ژوري اغېزې لري او همداسې ټولنيز نفسيات اغېزمن ساتي" (7)

نو دا ناول کيسه هم د يوې داسې عصبيت لرونکي ټولنې کيسه ده، چې ځانګړې جغرافيه يې پر ژوندنې کړهٔ وړهٔ سربېره پر اولسي ذهنيت باندې هم ژورې اغېزې لري، غرونه/ راغونه او دښتې يې د شنه اسمان لوري ته ګوري او للمي (خشکاوه) يې په بارانونو کېږي او دوی هم له بل چا څخه د لورېينې او پېرزوينې نفسيات لرونکي دي، چې له همدې کبله يې ځېلی اقتصاد په برخه او خوار خلک دي او د ژوند پالنې لپاره و ډېره خواري کښلو او کړاو تر سره کولو ته اړ دي او هم داسې يې ټولنيز ذهن او زړه د عصري علومو خوښولو او خپلولو په لومړيو مراحلو کې دی، چې د جغرافيه اغېزو يا اثراتو يې په اندامونو کې د پياوړتيا او قوت پر ساتلو سربېره له خپلې خوښې او هوډ څخه د اړولو نفسيات هم ډېر سوکه او ټپلې ساتلي دي، مانا دا چې زوړ خوښوونکي نفسيات لري او دا لاهم د دې قوم په حواله پخه خبره ده چې د مذهب سره ټينګه اړيکه لري او په خپلو ټولنيزورواياتو کښې په پوره ډول شکېل دي، څکه خو په ټوليزه توګه د خوښ کړل شوو دودونو د پرېښوولو ذهن او زړه نه لري او يا يې په ډېر ځنډ او وخت سره پرېښوولو ته زړه ښه کوي.

خو د ناول "عاشو لمر او باران اوري" کيسه په داسې ټولنيز چاپېريال کې د ټولنې و هغه برخه خلکو ته ځانګړې شوې ده، چې ذهن او زړه يې د لوستي طبقې استازيتوب کوي، مانا دا چې د کيسې زياتې څېرې (کرکټرز) لوستي دي او پرمختګ خوښوونکی ذهن او زړه لري. کيسه که څه هم خال خال له عصري علومو څخه لېري يا نالوستي ځيني کرکټرونه هم په خپله غېږ کې ځايوي، خو په مجموعي

توګه د عصري علومو د لوستونکو او آراسته خلکو نفسیات لرونکې کیسه ده، نو ویلای شو، چې "عاشو لمر او باران اوري" ناول کیسه په نالوستي چاپېريال کې د لوستي طبقې استازې کیسه ده.
د کیسې اتلان یا ستېئرنګ کرکټرز عاشو او آنو (ایاز) د دې طبقې استازي کرکټرونه دي، چې په خپل ټولنیز چاپېریال کې پر رینبو لرلو سربېره هم د تحول او بدلون خوښوونکي ذهن او زړه لري، مانا دا چې د زورپالو یا زور خوښوونکو ټولنیزو نفسیاتو په مقابل کې يې د مزاحمت په خپلولو سره د پرمختګ لوري ته لاره وهلې ده او د عصري علومو پر خوښولو/ لوست او اغېز سربېره يې د لوستي طبقې د خویونو او ژوندني ډول و خپلولو ته هم زړه ښه کړی دی، چې لیکوال يې د دوی په خپل منځني مباحثو یا وراشو څېړلو او یا هم د کیسې له بېلا بېلو کرکټرونو سره د خبرو/ مباحثو او یا هم ډائیلاګ په بڼه او صورت کې خپل ځان او فکر را څرګندوي او په کیسه کې د لوستونکي ذهن ته د چاپېریال د بېلا بېلو کرکټرونو په خوله د خپل ږغ او فکر رسولو هڅه کوي، چې په دې لړ کې ښېخې بریالی هم ښکاري، خو هغه د چا خبره چې: "ښه موسیقي ښه اورېدونکي غواړي" نو د دې کیسې لوست هم له لوستونکي څخه د چاپېریال او عصري علومو سره پر آشنایي سربېره د دوديزو یا رواج ژبو لکه پښتو، اردو، فارسي او انګرېزي سره هم پوره آشنایي غواړي، ولې چې د لیکوال ذهن د دې دوديزو ژبو په توان او چاپېریال کې زدکړې تر سره کړې دي، چې د کیسې په بیان کې خپلې اغېزې لري. مانا دا چې د کیسې په لوست د کیسې تر ژورو او نفسیاتو پورې هغه لوستونکی ذهن ځان رسولای شي، چې یوه علمي سویه او وړتیا و لري. له دې خبرې څخه مې مراد دا دی، چې داسې پوهه او وړتیا نه لرونکي کېدای شي؛ دا ډېره ګرانه او پېچیده کیسه و بولي او د خپلې نارسایۍ له کبله لیکوال تهمتي هم کړي، چې له ټولنیز ذهن سره يې سم تګ نه دی کړی... خو زه فکر کوم، چې د اروپوهنیزي څېړنې لاره د داسې کیسو تر ژورو پورې د رسېدلو لاره ده.
د ناول کیسې پیل د پښتني ټولني د ښاري او کلیوال چاپېریال په ګډون یا امتزاج سره کېږي، چې د کیسې اتل نارینه کرکټر ایاز خان "چې وروسته يې د "آنو" مینه ناک نوم په برخه شي" د ښاري سیمې او چاپېریال سره آشنا ژوند لري او له کلیوال چاپېریال سره د خپلې مېرمنې او نورو خپلوانو د رشتې او رینښې په واسطه د خپلوۍ په مزو تړلی وي او د کیسې اتله څېره (کرکټر) عاشو د خپل کلي په جمات (مسجد) کې دوديزې مذهبي زدکړې تر سره کوي، چې له نورو کلیوالو نجونو سره هلکوان هم یو ځای له ملا (اخترمحمد شریعت یار) څخه زدکړې تر سره کوي او په زدکړو بوخته نجلۍ عاشو په هلکوانو لوستونکو کې له یوه کلیوال هلک (ناصر) سره د یو شمېر پېرزوینو په څنګ کې د زړه خوالۀ هم لري، چې همدغه د زړه خوالۀ وروسته د وخت په اوږدو کې د میني په نوم را سربېره کېږي او مینه ناکه اروا یا نفسیات خپل شتون د ژوند تر پایه پورې ثابتوي او دا جوتوي، چې د مینې نفسیات د تلپاتیوالي خاصه او خوی لرونکي وي او دا هم ثابتوي، چې هره غوښتنه و مهالنیو اړتیاوو ته په کتلو یوازې په شاته تمبولو سره په تحت الشعور او لاشعور کې ځای نیسي، خو یو مخ له منځه نه ځي...

په دې لړ کې ثابته ده، چې د شعور/ تحت الشعور او لاشعور دغه سفر یا سرکل (چې د شعور له کچې یا سطحې څخه د یوې غوښتنې د ناوسۍ/ خنډونو او نورو لاملونو له کبله په نهیلۍ یا نا امیده کېدلو سره تر تحت الشعور او لاشعوره پورې ځان رسوي او هلته ځان ځایوي یا پټوي) ډېره موده په بر کې نیسي او په دې اړه به یوه بېلګه یا مثال داسې وړاندې کړم، چې کله یو ماشوم زېږي، نو د مور له مینې/ مهربانۍ او پېرزوینو سره آشنا کېږي او له همدې کبله یې ذهن د تېې یا انکار سره نا آشنا غوندې وي او هر وخت د خپلې غوښتنې پوره کولو لپاره چیغې او بغارې وهي، چې وروسته یې ورو ورو د غوښتنو په وړاندې د خنډونو او بندیزونو په را سربېره کېدلو سره غوږونو له تېې او انکار سره څه نا څه عادت شي او د شعور څخه تر تحت الشعور او لاشعوره پورې د غوښتنو سفر روان شي، چې کله کله انساني ذهن هم ورسره په سفر بوخت پاته وي.

اروابناد فرایډ هم په ا رواپوهنه کې دغه درې پړاوونه ارزښتوړ بللي دي او په دې لړ کې ښاغلی شریف خان د پېتړ بېرې په حواله وایي، چې دغه درې پړاوونه په اورل، انیل او پېلک پړاوونو کې وده کوي، ژباړه یې داسې ده، چې:

> "فرایډ د روح یو ماډل د دوو پر ځای له درې برخو ایګو (زه) سپر ایګو (اخلاقي زۀ) ایډي (دا) سره په ګوته کړ، چې دغه درې پړاوونه بیا د شخصیت له شعور یا احساس، ضمیر او لاشعور سره اړیکې لري"(8)

د "عاشو لمر او باران اوري" د کیسه ایز پیل په څنګ کې لیکوال د دواړو اتلانو څېرو "عاشو او آیاز" پر ښارې او کلیوال چاپېریال سربېره د هغوی په شا او خوا کې ټولنیز کلتور/ دودونه او نرخونه هم د بېلا بېلو څېرو په واسطه سره په پام کې نیسي او د هغوی په تړون په راشه درشه او راکړه ورکړه کې د هغوی چاپېریالي او کلتوري انځور یا تصویر په ډېر بریالیتوب سره لوستونکي ته وړاندې کوي، چې په انساني ټولنیز چاپېریال او په ځانګړې ډول په پښتني ټولنه کې د پلار/ مور/ ورور/ خور/ کورنیو غړو/ خپلوانو او کلیوالو تر منځ په ټاکلو رشتو او دودیزو خویونو او نرخونو یا ټاکلي کلتور سره څه رنګه ژوند خپله بڼه نیسي او په دې لړ کې یې شاتنې یا پسِ پرده نفسیات (تحت الشعور) څومره کارِنده وي.

د ستېئیرنګ کرکټر څهرې آنو (ایاز خان) آفیسري، اساتیاوي لرل، پر ښه سړیتوب سربېره له خپل شاته پاته اولس سره اړیکې ساتل، پر خپل اولسي کلتور باور لرل، د کورنۍ پالل او د داسې نورو ښېګړو په څنګ کې د اولاد له نعمت څخه بې برخې پاتېدل که و څارل شي، پر دې سربېره په کور کې د خاتمې (د ایاز مېرمن) د ورور د لور عاشو اوسېدل، د ایاز خان له خوا د هغې هره اقتصادي او مالي غوښتنه پوره کول، یوه بې نومه غوندې دوستي او پر آفاقي یا انساني کچه باندې د اروایي تړون یا اتصال کړی، د پلار او لور د خپلوۍ بڼه او په کور کې د عاشو شتون د روڼا په څېر د دوی د ډاډ وړ

ګرځېدل او هم د مېرمني او مېړه په منځني تاوتريخوالي کي د آياز خان خواله کول، د خاتمې ترور له خوا ګيله "چي د ويني رشته دي له ما سره ده او خوالۀ د اياز خان سره لرې" که د اروايي شاليد په رڼا کي و څارل شي، نو د شاتنيو نفسياتو په څرک کولو او احساسولو سره لوستونکی په زمان او مکان کي ټولنيز نفسيات هم څارلای شي او د ليکوال تر اروايي ژورو پوري هم رسېدلای شي.
دا کېدلای شي، چي د کيسې د پيليز چاپېريال په رڼا کي مو د ټولني د ماشومانو/ په ذهن سازي کي د کور/ جمات او چاپېريال د زدکړو اغيز د هغوی تر شاتنيو نفسياتو پوري و رسوي.
د عاشو د لومړنۍ ميني ريښې نيول، په داسي هوډي او کلتوري ټولنه کي د جنسي غوښتني پوره کولو لپاره د ورور له خوا د ورور وژنه "مانا د ورور له خوا په پټه توګه د عاشو د پلار مرګ" او د مذهب د يوه استازي له خوا د عاشو غېږي ته د ځان رسولو او خپلولو هڅه او نوري چاري لوستونکی اړ باسي، چي لاملونه يې و پلټي، مانا دا چي هغه شاتنيو نفسياتو ته ځان و رسوي، چي په يوه پښتني او مذهبي کلتور لرونکې ټولنه کي ناوړه ګڼل کېدونکي چاري ولي د کلتوري استازو له خوا تر سره کړل شي؟ څه لاملونه او اسباب لري؟
د کيسې د اتلي (ښځينه هيرو) عاشو په خويونو کي هم د کيسې تر پايه د پلار د ناڅرګند مرګ په اغېز پر مجروح شوو نفسياتو سربېره د مور له خپل لېوره سره په ناوسي واده کولو ته زړه ښه کول او يا هم په عامه توګه د کيسې په زمان او مکان کي د ښځي د ناوسۍ نفسياتي اغېزې تر سترګو کېږي، چي په غبرګون يې د دې په خويونو کي توندوالی او پياوړتيا ځپې وهي.
د کيسې په ژورلوست سره د اروايوه فرايډ څرګندوني باوري کېږي، چي له ماشومتوبه د را پيل شوي ژوندانه د بهير يا لړۍ په غېږ کي را سربېره کېدونکي غوښتني تر نه پوره کېدا وروسته د هيلو په بڼه تر څه وخته انسان اندېښمن ساتي، خو وروسته په ارمان اوړي او له شعوري کچي څخه د لاشعور کچي ته په ځان رسولو خوبولي کېږي، مانا د هېر کندي ته ځان اچوي، خو په بشپړه ډول له منځه نه ځي او مرګ ته ځان نه ورکوي.
په دې اړه د ښه سپيناوي لپاره ويلای شو، چي پر انساني ژوند او ذهن باندي د پرونيو اغېزو څرک هرو مرو پروت وي، چي په نن کي د تېرو شوو وختونو له تجربو څخه د سباوون او پرمختګ لپاره په ذهني وړتيا او پوهه سره د لاري ټاکنه باوري کوي، چي له پرون، نن او سبا څخه ژوند جوړ دی. همدا ټرون دی، چي وختونه او اولسونه يې له يو بل سره ګنډلي ساتلي دي. له پرونيو تجربو څخه نن رغېږي او له نن څخه د سباوون رغېدني فکر را سربېره کېږي.
د مور او پلار تر مينه وروسته "چي د هر وګړي لپاره د ميني دويم پړاو ګڼل کېږي" داسي ښکاري، چي د عاشو د زړه پر دښته د ناصر مينه ناکه رويې او خوږو کتلو چي د ميني کوم نيالګي ته وده او تودښت ورکړی وو؛ د هغه تر بارداره کېدلو او نتيجې پوري د رسېدلو په مخکي "چي د چاپېريال کوم خنډونه را منځته شوي وو" وروسته يې ناهيلو شوو نفسياتو له لاشعورپه راسربېره کېدلو تر همداسي

تودې مینې پورې د رسېدلو ارمان پوره کولو د هغې ذهن او زړه و دې ته چمتو کړی وو، چې تر خپل ځان په تېرېدلو سره د آنو غېږې ته ځان وسپارې.

د پورته خبرې باورې کولو لپاره د ناول کیسې له منځپانګې/ نفسِ مضمونه حواله را اخلو:

"عاشو پخپله هم ډېره حیرانه سوه، چې په تحت الشعور کې پټ دا... اور لاتر اوسه څو تازه پروت دی، هغې د څه ساعت د پاره ځان د دې لذت په حواله کړی، د هغې په وینه کې تحلیل پرتې د ناصر جان پیشو په منځ کې هیڅ هم مداخلت نه وکړی. کله چې یې خیالات د آنو (ایاز خان) و خوا ته وګرځېدل، نو د ناصر جان د مړینې د خبر په تناظر کې د آنو باران صفتو بوسو په خپل امان کې واخستله او یوه شېه چې کله د فوارې تر څنګه دا په باران کې رخصېدله، نو د آنو سره د بدنې تماس هغه خوند یې په بیرته دلته په وینه کې غزوني وکړې." (9)

له پورتني پېراګراف څخه ښکاري، چې په تحت الشعور کې پټ پاته شوی ارمان "چې د دویمې مینې "ناصر جان" په مرګ نیمګړی پاته شوی وو" د آنو په سهارا موندلو سره بیرته ځان را سربېره کوي او د هغې تندې د خړوبولو لپاره د شاتنیو نفسیاتو په توان ځان پر خنډونو سربېره لذت ته حواله کوي.

پوښتنه را منځته کېږي، چې د دې چارو تر سره کوونکو عاملینو یا عملي کوونکو په لاشعور کې داسې کومو ارمانونو ځای نیولی وو، چې د وخت او موقعې په لټون کې یې په ذهن کې په ځان را سربېره کولو سره د دوی بدنې غړې او اندامونه دومره تاند او خوځولې و ساتلای شول او د پاته شوو تږو ارمانونو په وړاندې یې څه خنډونه پاته شوې وو، چې په ناهیلې کېدلو یا نا امیدې سره یې په لاشعور کې ځای موندلی وو. د همدې لاملونو په موندلو او سپړدلو د را منځته کېدونکو خنډونو په هوارولو سره ذهنې خپلواکې/ تولنیزه ودانې او د انسانیت په ښه توګه را سربېره کېدل ممکن دې.

د عاشو او ناصر د مینې توندوالی چې له کوشنیوالې څخه یې د دوی په زړونو کې ریښې نیولې وې او په را روان وخت کې یې د یو ځای کېدلو هیله په زړونو کې کرلې وه، د هغوی د کوشنیوالې مینه "چې یو بل ته د کتلو او څه پېرزوینو ښه یې درلوده" د هغې مینې توندوالی یا ځوانېدل د کیسې په برخو کې داسې لولو، چې:

"په آخیرې ملاقات کې چې کله ناصر جان مرید کې له تلی، نو عاشو ته ډېر غمجن و برېښېدی، کله چې عاشو و هغه ته د معمول مطابق د پیسو ورکولو د پاره لاس ور و غزوی، نو په ژوند کښې اول ځلې ناصر د هغې سپین مرمرین لاس د خپلو دواړو لوسونو په حصار کې واخست...

عاشو ګوره! چې بیا به کله ملاقات وي او ستا لاس مې ځکه ټینګ کړی، چې ستا د بدن لمس په خپله وینه کښې تحلیل وړل غواړم...

عاشو له يوې نامعلومې وسوسې څخه د ګل د ښاخ په څېر لړزانه راغله او ورته وې ويل:

ولې ناصر جانه! څه خبره ده؟ خدای دې آخيري ديدن نه کړي، خدای دې پر سر سه، له خدايه دې روغ رمټ او امانت غواړم...

عاشو خپل دويم لاس هم د هغه پر لاسونو کښېښودی او په روحاني تړون تړلي دا دوه روحان په اول ځلي د خپلو احساساتو په حواله يوه بله آسماني ژبه وا اورېدله...

په دې توګه د جدا کېدونکو دوو دوستانو په زړونو کښې د مينې خاموش اور د هغوی د خپلو اوښکو په سرو بخرو د تل د پاره نځاند او روښانه و لګېدی." (10)

دلته دا خبره په نفسياتي توګه ببخي څرګنده ښکاري، چې له ناصر سره د عاشو مينه "چې له کوشنيوالي څخه يې د هغوی په زړونو کي ريښې نيولې وې" د را روان ژوند د وصلت او يو ځای کېدلو هيله په زړه کي ساتلې وه، خو هغه مينه يې له ځوانېدلو سره سمه د ناصر په مرګ له نهيليو سره مخامخ شوه او په نهيلي سره يې د عاشو په لاشعور کي د وخت موندلو په هيله ځان خوبولی کړی، کله چې ناصر په ځانمرګي بريد کي مري او په مرګ يې د دوی تر منځ غځېدلې او ځوانه مينه نهيلي کېږي، وروسته يې سهارا/ تکيه د آنو په بڼه را پيدا کېږي... په کيسه کي داسي لولو:

"د حادثې پر ځای چې، د خودکش بمبار، له بدني پارچو سره، په نژدې کي د هغه شناختي کارډ هم و موندل سو، د هغه په مطابق د خودکش بمبار نوم حافظ ناصر خان، د پلار نوم يې شهباز خان...

د اياز خان، او عاشو، دواړو، عکس العمل غير معمولي وو... آنو! دا څه وايي؟ دا څنګه کېدای سي؟ او په چيغو چيغو په ژړا سوه او د اياز خان په غوزي کي ور ولوېده.. اياز خان په لندو سترګو په خپلو لړزانده لېځو کي را غونډه کړه..

عاشو په ژړا ژړا د هغه په غوزي کي د سرې واوري په توګه ببرانه سوه." (11)

د ناول "عاشو لمر او باران اوري" کيسې په لوست د ښځينه څېرې عاشو په څنګ کي د دوو نارينه څېرو (کرکټرونو) اياز (آنو) او نعمان د نفسياتو په څارنه سره موږ ويلای شو، چې په خويونو کي يې د شاتنيو نفسياتو څرک ليدل کېږي، ولې چې هر نژاد (نسل) د خپل نسل په پالنه سره د ژوند تلپاتيوالی غواړي، نو ځکه فطري غوښتنه يې دا وي، چې ژوند ته پياوړی استازی ورکړي.

په دې لړ کي د وړاندې شوي خبرې د باورې کولو لپاره يوه حواله را اخلو:

"خپلواکه ښځه له هغه نارینه څخه اولاد نیسي، چې د نورو په پرتله ښکلی او پیاوړی وي، دا ځکه چې طبیعت پیاوړی اولاد غواړي. د طبیعت د همدې غوښتنې په درناوي ښځه د روغتیا لرونکي نارینه ټاکنه کوي." (12)

همدغه خبره نوموړی لیکوال ډاکټر مقبول طارق په وار وار راوړي، چې:

"ژوند د ژوندانه تلپاتیوالی (همېشتوب) غواړي؛ بلکې دا بـه کره خبره وي، چې ژوند د ژوند تلپاتیوالی باوري کول غواړي." (13)

د وړاندې شوو حوالو په شالید کې که موږ په کیسه کې د ښځینه څېرې عاشو او نارینه څېرو ایاز او نعمان شاتنې نفسیات و څارو، نو د فطري غوښتنو په باور ویلای شو، چې له خاتمې (د ایاز مېرمن) سره پر وصلت سربېره د آیاز له اولاده بې برخې پاتېدل هغه فطري تشنګي پر ځای ساتلې وه، چې د مذهب/ کلتور/ رشتو او چاپېریال پر هر ډومره منځنیو خنډونو سربېره یې هم دوو کردارونو ښځې او نارینه ته د خپل فطري تسکین او کرار لپاره د وصلت د داسې چارې تر سره کولو ذهن او زړه ورکړی، کنې نو دغه چاره خو د ملا اخترمحمد شریعت یار سره هم تر سره کېدلای شوه، خو هلته نفسیاتي غوښتنه دومره توانا نه وه، چې منځنې خنډونه یې مات کړي وای. د پورته خبرې د باور لپاره د عاشو او آنو د وصلت په نتیجه کې د ناول کیسې تسکین وړاندې کوو، چې:

"او بیا یوه ورځ چې د خپل تخلیق سوي آنو چیغه د عاشو تر غوږو سوه، نو دا پوه سوه، چې مور او مځکه ولې سره یو دي، هغـه ډېره حیرانـه سوه، چې جنس، تخلیق او روحاني کمال پـه آخري تجزیـه کې ځومرې سره یو دي. د تخلیق د لمحې سره سم د هغې د ژوند ترجیحات څو بدل سول، عاشو پر دې باندې ډېره حیرانه راغله، د ترجیحاتو سره سم اوس د خلکو او ژوند خپلـه څېـره هـم ځـومرې ښایسـته سـوه. د مـور د جـذبې لـه غوړېـدو سـره هغـه و پوهېدله، چې د دې تکمیل اوس و سر ته و رسېدو." (14)

د دې تخلیق (افراسیاب خان) په زېږېدلو سره د کیسې مخکښې څېرې یا سټېئرنګ کرکټران پر خپل خپل ځای تسکین او ډاډ مومې، خو کله چې دغه سهارا (تکیه) بیرته په مرګ له منځه ځي، نو د عاشو او نعمان په څنګ کې د آنو (آیاز خان) درد د کیسې نفسیات اوج ته رسوي او داسې یې څرګندوي، چې:

"هلته آیاز خان پر دوه ځایه حلال سو، د عاشو غم او د خپل نسل پـه نېست سره د ژوند د ابدیت څخه مخ اړولی پاتـه سو، هغـه پـه دا خیـالونو کې ورک ولاړی.

پە نژدې کي د ژوند لە سرحد دباندي وتونکی زە سړی بە د ژوند د معروضیت هوسایي څرنگە ولرم، چي د افراسیاب پە صورت مي پە زمان مکان کي ریښە پاتە نە سوە." (15)

بل دا چي نعمان کە څە هم د خپلي میني تودښت او ارزښت لە خپلي میني او مهرمني څخه د اپېږ د ناروغۍ پە انتقالېدلو د مرگ لە وېري لېري ساتلي وو، خو د ژوند هغه استازی (افراسیاب خان) "کوم چي د ایاز او عاشو د وصلت نتیجه وه" پر نە باور سربېره هم د تسکین او قرار لامل گرځېدی او زړه او ذهن یې دې تە جوړ شوی وو، چي لږ تر لږه د میني د وجود یوه نخښه خو یې دە.

کله چي نعمان د ډاکټر شیرینو لە خولې اوري، چي پە مدهوشي کي یې لە خپلي میني سره د وصلت چاره تر سره کړې دە، نو پر نە باور سربېره هم د هغې د ناروغۍ پە اړه اندېښمن کېږي، خو کله چي ډاکټر د هغې د روغتیا پر باور سربېره د امېندوارۍ زېری هم ورکوي، نو د هغه نفسیاتي غبرگون د کیسې پە منځپانگه کي داسي لولو:

"د نعمان پر څېره باندي د اطمینان رڼا و ځلېدله...
ډاکټر شیرینو! شکر دی؛ والله چي د مرگ لە سرحدو دي را ستون کړم.
او نعمان جانه! د خوشحالۍ دویمه خبره بیا دا دە، چي هغه امېندواره لاهم دە، ډاکټر شیرینو تر خپل مقصده پە کامرانۍ سره و رسېدە.
اهو! ډاکټر زە د خدای شکر گذار یم، چي زە یې د پلارني احساس سره ښاد کړم." (16)

**پایله:**

د کیسې لە وړاندي شوو حوالو او د اروایپوهانو لە علمي رایو څخه موږ دا پایله یا نتیجه تر لاسه کولای شو، چي د ژوند پە برخه کي ناهیلي او نیمگړي پاتە شوي ارمانونە کە د شعور لە کچي (سطحي) څخه د لاشعور برخي تە پە تېرېدلو ځان لە مخه و باسي او د هېر یا لاشعور پە برخه کي ویده، خوبولي او نیمژواندە غوندي پاتە شي، خو د وخت پە موندلو سره بیرتە ځان د شعور کچي یا سکرین تە را سربېره کوي او د خپل ژوند پە باوري کولو سره پە انساني غړو کي دومره خوځون او حرکت پیدا کوي، چي پە پوره کېدلو سره تسکین و مومي.

پە همدې حوالو او د کیسې پە اروایپوهنیزه څېړنه (تحلیلِ نفسي) سره دا خبره هم باوري کېږي، چي پە ادبیاتو او پە ځانگړي ډول پە کیسە ایز ادب لکە داستان، ناول، لنډه کیسە (افسانە) ډرامه او داسي نورو کي اروایپوهنیزه څېړنە پە زړه پوري ثابتېږي، هغه ځکه چي د اروایپوهنیزي یا نفسیاتي څېړني لە لاري څېړونکی د کیسې تر ژورو پوري رسېدلای شي او هم د کیسې د بېلا بېلو څېرو یا کرکټرونو پە اروایي څېړنە سره و لوستونکي ذهن تە د ادبي ژانر یا صنف تر ژورو پوري د رسېدلو لاره پرانستلای

شي او دا هم باوري ده، چي په همداسي ډول ځېړنه لوستونکی د لیکوال او ادبي ژانرونو تر ژورو پوري رسېدلای شي.
د ادبي ژانرونو تر ژورو پوري د رسېدلو په اړه د پورتنۍ خبري مرام به هم داسي څرګند کړو، چي د کیسه ایز ادب په ژانرونو داستان، ناول او لنډه کیسه کي د کرکټرونو د خوی بوی له لاري د لیکل شوي کیسې په زمان او مکان کي د هغوی د ټولني (معاشرې) انځور (تصویر) وړاندي شوی وي، نو د ادب پوهانو هغه خبره هم "چي ادب د ژوند تفسیر دی" موږ ته د اروا پوهنیزي ځېړني له لاري په پوره او ښه توګه څرګندېدلای شي او د هغه وخت د ټولنیز ژوند و انځور یا تصویر ته په رسېدلو موږ ته هغه توپیر هم ښکاره را سربېره کېږي، چي په تېر شوي وخت کي زمان څومره پرمختګ کړی او څومره بدلونونه راغلي دي او همداسي د بدلونونو تر سره کېدلو لاملونو یا اسبابو ته هم د یوه لوستونکي په توګه رسایي ممکن ده، چي په رونیا کي یې له پرون څخه د تجربې تر لاسه کولو او په نن کي د ښه سباوون لپاره د هڅه کوونکي ذهن جوړښت او روزنه تر سره کېدای شي.

## حوالې

(1) اختر، ڈاکٹر سلیم، طبع اول سال ۱۹۸۶ء، نفسیاتی تنقید۔ پبلشر؛ مجلس ترقی ادب لاہور، صفحہ ۲۶
(2) همدغه اثر مخ۲٦
(3) بلوڅ،حاجي محمد عمر، چاپکال ناڅرګند، قرآن کريم؛ مترجم هفت زبان؛ مخ ۴۰۹
(4) ايوبي، محمد نادر، ۲۰۰۷ز کال چاپ، روحيات؛ چاپچاري؛ صحاف نشراتي موسسه کوټه، مخ ۱۰
(5) همدغه اثر مخ ۱۱
(6) غضنفر، اسدالله، چاپکال ۱۳۹۶ل، څراغ. خپروونکی؛ مومند خپرندويه ټولنه جلال اباد ،مخ ۲۳۸
(7) جلال پوري، علي عباس، چاپکال ۲۰۱۰ز، مقالاتِ جلال پوري. خپروونکی؛ تخليقات لاهور. ۲۰۰، ۲۰۱ مخونه
(8) شريف خان، د ناول "طالبه خدای که به ملا شي" تحليلي څېړنه" د تحليلِ نفسي په رڼا کښې" مشموله؛ تکتو مجله، کوټه پوهنتون، شماره ۱۵ جلد ۸، مخ ۶۷
(9) راز، پروفېسر راز محمد. چاپکال ۲۰۰۸ز، عاشو لمر او باران اوري، خپروونکی: فکر نو ادبي فورم پښين، ۱۳۱ مخ
(10) همدغه اثر ۳۳، ۳۴ مخونه
(11) پورته ياد شوی اثر مخ ۳۸
(12) طارق، ډاکټر مقبول، سنگين فکری مغالطے۔ ژباړه؛ نعيم آزاد، چاپکال ۲۰۱۶ز، ژوري فکري تېروتني، خپروونکی؛ پښتو ادبي غورځنګ کوټه،مخ۳۲۶
(13) همدغه اثر، ۸۶/ ۲۵۰/ ۲۷۳/ ۵۱۲ مخونه
(14) راز، پروفېسر راز محمد، چاپکال ۲۰۰۸ز ، عاشو لمر او باران اوري؛ خپروونکی: فکر نو ادبي فورم پښين، ۲۰۵ مخ
(15) همدغه اثر، ۲۰۵ مخ
(16) همدغه اثر، ۱۹۱/ ۱۹۲ مخونه